**د پوهنې وزارت**
د تعلیمي نصاب د پراختیا او د ښوونکو
د روزنې معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو
د تألیف لوی ریاست

# حسن خط

## شپږم ټولګی




**د چاپ کال: ۱۳۹۶ هـ ش**

درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري،
اخیستنه او خرڅونه یې په کلکه منع ده.
له سرغړونکو سره قانوني چلند کیږي.

moe.curriculum@gmail.com



# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی
دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې
هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی
د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو
د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، گوجر دي
پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي
هم ایماق، هم پشه یان
دا هیواد به تل ځلیږي
لکه لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به
لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر
وایو الله اکبر وایو الله اکبر

بسم الله الرحمن الرحیم

**د پوهنې وزارت**

د تعلیمي نصاب د پراختیا او د ښوونکو د

روزنې معینیت

د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د

تالیف ریاست

# حسن خط

## شپږم ټولګی

سال چاپ: ۱۳۹۶ هـ.ش.

## مؤلفان

- محمد ظاهر طاهري
- سید انور میچنخیل

## د بیا کتنې کمېټه

- سید انور میچنخیل
- د سر مؤلف مرستیال محمد غالب الله یار

## علمي او مسلکي اډیټور

- عبدالجبار د هنرو او صنایع د انستتیوت استاد

## د ژبې ایډیټ او ژباړه

- محمد قدوس زکوخیل

## دیني، سیاسي او فرهنګي کمیټه

- حبیب الله راحل د تعلیمي نصاب د پراختیا په لوی ریاست کې، د پوهنې وزارت سلاکار
- مؤلف مولوی عبدالوکیل

## د ځارنې کمېټه

- دکتور اسدالله محقق د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د روزنې او د ساینس د مرکز معین.
- دکتور شېرعلي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې رئیس.
- دکتور محمد یوسف نیازي د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی ریاست سرپرست

## طرح او ډیزاین

- محمد اشرف امین
- احمد فرهاد نوري

**د چاپ د سمون چارې**: محمدکبیر حقمل د پوهنې وزارت د نشراتو او اطلاعاتو رئیس

# د پوهنې د وزیر پیغام

د لوی خدای (ج) ډېر شکر دی چې انسان یې په احسن تقویم پیدا او هغه ته یې د خبرو کولو توان ورکړ او د علم او فکر پرګاڼه یې سمبال کړ. ډېر درود دې وي د اسلام پر ګران پیغمبر حضرت محمد مصطفی ﷺ چې د انسانیت ستر ښوونکی او د رحمت، لارښوونې او روښنایی پیغام راوړونکی دی.
ښوونه او روزنه په هره ټولنه کې د بدلون او پراختیا بنسټ دی. د ښوونې او روزنې اصلي موخه د انسان د بالقوه ځواکونو فعالول او د هغه د پټو استعدادونو غوړول دي.
درسي کتاب د ښوونې او روزنې په بهیر کې یو مهم رکن بلل کیږي چې له نوو علمي بدلونونو او پرمختګونو سره اوږه په اوږه د ټولنې له اړتیاوو سره سم تالیف کیږي. درسي کتابونه باید د منځپانګې له مخې خورا بډای وي چې وکړای شي د علومو له نوو لاسته راوړنو سره مل، دیني او اخلاقي زده کړې د نوو میتودونو له لارې زده کوونکو ته ولیږدوي.
دغه کتاب چې اوس ستاسو په واک کې دی، د همدغو پورته ځانګړنو پر بنسټ چمتو او تالیف شوی دی. د پوهنې وزارت تل زیار باسي چې په هیواد کې تعلیمي نصاب او درسي کتابونه د اسلامي ښوونې او روزنې او د ملي هویت د ساتلو پر بنسټ جوړ او له علمي معیارونو، نوو روزنیزو میتودونو او د نړۍ له علمي پرمختګونو سره سم چمتو کړي. د زده کوونکو استعدادونه په ټولو اخلاقي او علمي خواوو کې وغوړوي او په هغوی کې د تفکر او نوښت توان او د پلټنې حس پیاوړی کړي. د خبرو اترو او پیرزوینې د فرهنګ دودول، د هیواد پالنې او د مینې او محبت د حس پیاوړی کول، ښښنه او پیوستون د پوهنې د وزارت نورې غوښتنې دي چې ښايي د لوست په کتابونو کې ورته پام وشي.
درسي کتابونه د ښه او مسلکي ښوونکي له درلودو پرته نشي کولای ټاکل شوې موخې ترلاسه کړي. ښوونکی د ښوونې او روزنې یو مهم جزء او د ښوونې او روزنې د پروګرامونو پلي کوونکی دی. د هیواد له ژمنو او زړه سواندو ښوونکو څخه، چې د تورتم او ناپوهۍ په وړاندې یې جګړه خپله دنده ګرځولې، دوستانه هیله لرم چې د تعلیمي نصاب په دقیق او مخلصانه تطبیق کې د هیواد ماشومان، نجونې او تنکي ځوانان د پوهې، اخلاقو او معنویت لوړو څوکو ته ورسوي.
د هیواد د زده کړې د نظام بری د خلکو له جدي مرستو پرته امکان نه لري. له دې امله له ټولو قشرونو او د ملت له شریفو خلکو، په تیره بیا له کورنیو او د زده کوونکو له درنو اولیاوو څخه هیله لرم چې د معارف د موخو د لاسته راوړو په برخه کې له هیڅ ډول مرستې څخه ډډه ونه کړي. دغه راز له ټولو لیکوالو، پوهانو، د ښوونې او روزنې له ماهرینو او د زده کوونکو له محترمو اولیاوو څخه هیله کیږي چې په خپلو رغنده نظرونو، وړاندیزونو او نیوکو د درسي کتابونو په لاښه والي کې د پوهنې له وزارت سره مرسته وکړي.
لازمه بولم له ټولو ښاغلو مؤلفانو، د پوهنې وزارت له اداري او فني کارکوونکو او له ملي او نړیوالو بنسټونو څخه، چې د دغه کتاب په چمتو کولو، چاپولو او ویش کې یې زیار ایستلی او مرسته یې کړې، مننه وکړم.
په پای کې له لوی خدای ﷻ څخه غواړم چې په خپله بې پایه مهربانۍ له موږ سره د پوهنې د سپېڅلو ارمانونو په لاسته راوړلو کې مرسته وکړي. انه سمیع قریب مجیب.

د پوهنې وزیر
دوکتور اسدالله حنیف بلخي

# فهرست

د لوست شمېره    سرلیک    مخ

## لومړی څپرکی


١    له نورو تورو سره د (الف) توري ترکیب ....... ١
٢    له نورو تورو سره د (ب) توري ترکیب ....... ٢
٣    له نورو تورو سره د (ج) توري ترکیب ....... ٣
٤    له نورو تورو سره د (د) توري ترکیب ....... ٤
٥    له نورو تورو سره د (ر) توري ترکیب ....... ٥
٦    له نورو تورو سره د (س) توري ترکیب ....... ٦
٧    له نورو تورو سره د (ص) توري ترکیب ....... ٧
٨    له نورو تورو سره د (ط) توري ترکیب ....... ٨
٩    له نورو تورو سره د (ع) توري ترکیب ....... ٩
١٠    له نورو تورو سره د (ف) توري ترکیب ....... ١٠
١١    له نورو تورو سره د (ق) توري ترکیب ....... ١١
١٢    له نورو تورو سره د (ک) توري ترکیب ....... ١٢
١٣    له نورو تورو سره د (ل) توري ترکیب ....... ١٣
١٤    له نورو تورو سره د (م) توري ترکیب ....... ١٤
١٥    له نورو تورو سره د (ن) توري ترکیب ....... ١٥
١٦    له نورو تورو سره د (ه) توري ترکیب ....... ١٦
١٧    له نورو تورو سره د (و) توري ترکیب ....... ١٧
١٨    له نورو تورو سره د (ی) توري ترکیب ....... ١٨


## دویم څپرکی


١٩    په شکسته نستعلیق خط د تورو د خطاطۍ بڼه، ټکو ایښودنه او ترکیب ....... ١٩
٢٠    له نورو تورو سره د (ا ، ب ) تورو ترکیب ....... ٢٠
٢١    له نورو تورو سره د (ج ، د ) تورو ترکیب ....... ٢١
٢٢    له نورو تورو سره د (ر ، س ) تورو ترکیب ....... ٢٢
٢٣    له نورو تورو سره د (ص ،ط ) تورو ترکیب ....... ٢٣
٢٤    له نورو تورو سره د (ع ، ف ) تورو ترکیب ....... ٢٤
٢٥    له نورو تورو سره د (ق و ک ) تورو ترکیب ....... ٢٥
٢٦    له نورو تورو سره د (ل، م،ن ) تورو ترکیب ....... ٢٦

۲۷ له نورو تورو سره د (و، ه ) تورو ترکیب ...........................................۲۷
۲۸ له نورو تورو سره د (ی ) تورو ترکیب ...........................................۲۸

## دریم څپرکی

۲۹ دکلموپه بېلا بېلو موقعیتونو کې په نسخ خط کې د تورو د حرکتونو ..........۲۹
۳۰ له نورو تورو سره د (الف) توري ترکیبونه ...........................................۳۰
۳۱ له نورو تورو سره د (ب) توري ترکیبونه ...........................................۳۱
۳۲ له نورو تورو سره د (ج) توري ترکیبونه ...........................................۳۲
۳۳ له نورو تورو سره د (د) توري ترکیبونه ...........................................۳۳
۳۴ له نورو تورو سره د (ر) توري ترکیبونه ...........................................۳۴
۳۵ له نورو تورو سره د (س) توري ترکیبونه ...........................................۳۵
۳۶ له نورو تورو سره د (ص) توري ترکیبونه ...........................................۳۶
۳۷ له نورو تورو سره د (ط) توري ترکیبونه...........................................۳۷
۳۸ له نورو تورو سره د (ع) توري ترکیبونه ...........................................۳۸
۳۹ له نورو تورو سره د (ف) توري ترکیبونه ...........................................۳۹
۴۰ له نورو تورو سره د (ق) توري ترکیبونه ...........................................۴۰
۴۱ له نورو تورو سره د (ک) توري ترکیبونه ...........................................۴۱
۴۲ له نورو تورو سره د (ل) توري ترکیبونه ...........................................۴۲
۴۳ له نورو تورو سره د (م) توري ترکیبونه ...........................................۴۳
۴۴ له نورو تورو سره د (ن) توري ترکیبونه...........................................۴۴
۴۵ له نورو تورو سره د (و) توري ترکیبونه ...........................................۴۵
۴۶ له نورو تورو سره د (ه) توري ترکیبونه...........................................۴۶
۴۷ له نورو تورو سره د (ی) توري ترکیبونه...........................................۴۷
۴۸ کتابت...........................................۴۸
۴۹ پر نستعلیق خط د چلیپا لیکل ...........................................۴۹
۵۰ د تور مشق دخطاطی طریقه ...........................................۵۰

## دویمه برخه


۵۱- د حسن خط تدریس لارښوود ...........................................۵۱-۶۶

**یادونه:** د هغو استاذانو لپاره چې د حسن خط د ښوولو د مضمون دنده په غاړه لري، خط د پېژندلو، اقسامو او د ښایسته لیکلو لپاره د وسایلو او لوازمو د پېژندلو په اړه څو ضروري ټکي د کتاب په پای کې ځای پر ځای شوي دي. هیله ده ښاغلي ښوونکي د تدریس پر محال ترې لازمه ګټه واخلي.

# لومړی څپرکی



د کلمو په بیلابیلو ځایونو کې د نستعلیق خط د الفبا تورو د
ترکیب او خطاطۍ پر بنې پوهیدل



لومړی لوست

## له نورو تورو سره د (الف) توری ترکیب

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط او کږکي قلم له نورو تورو سره د الف توري د ترکیبونو په ټکو ایښودنه وپوهیږي.

**پوښتنې**

ستاسو په نظر په لاندینۍ جمله کې الف توری له کومو تورو سره ترکیب شوی دی؟
څه فکر کوئ د الف توری د یوې کلمې په کومه برخه او یا یوه جمله له کومو تورو سره یو ځای مشق شوی دی؟







**فعالیت**

د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط او کږکي قلم په پورتنۍ جمله کې الف په پیل او منځ کې له تورو سره ترکیب شوی دی.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونه د نستعلیق خط له قاعدې سره سم پر پنسل او یا خود کار قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.


**دویم لوست**

## له تورو سره د (ب) توري ترکیب

**موخه:** زده کوونکي به د نستعلیق خط له اصولو سره سم له نورو تورو سره د (ب) توري پر ټکو ایښودنه و پوهیږي.

**پوښتنې**

په لاندې جملو کې کومې کلمې د کرسي خط له پاسه پرتې دي؟
په لاندې کلمو کې د (ب) توری څنګه په پیل، منځ او پای کې له نورو تورو سره ترکیب شوی دی؟





**فعالیت**

په پورتني تمرین کې جمله ژوره مطالعه کړئ، وروسته یې پر کړکې قلم د نستعلیق خط له اصولو سره سم مشق او تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**


پورتنۍ نمونه د نستعلیق خط له ځانګړتیاوو سره سم پر پنسل او خود کار قلم په خپلو کتابچو کې تمرین کړئ.

## له نورو تورو سره د(ج) توري ترکیب

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط پر مخ پر نستعلیق خط له نورو تورو سره د (ج) توري د ترکیبونو په خطاطۍ او ټکو ایښودلو پوه شي.

**پوښتنه**

په لاندې نمونه کې د (ج) توري پر قاعدو او ټکوایښودلو پوهیږئ؟






**فعالیت**

د پورتنۍ نمونې په اړه بحث وکړئ، وروسته یې هره یوه کلمه په نستعلیق خط او کړکي قلم په خپلو کتابچو کې د کرسي خط له پاسه مشق او تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

د پورتنۍ نمونې له مخې له نورو تورو سره د (ج) توری ترکیب له ټولو ځانګړتیا وو سره په یوه جمله کې پر پنسل یا خودکارقلم په خپلو کتابچو کې مشق او بله ورځ یې ټولګي ته راوړئ.

## څلورم لوست

# له نورو تورو سره د (د) توري ترکيب

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه د نستعليق خط له اصولو سره سم پر کړکي قلم د (د) توري پر ټکو ايښودلو او ترکيب وپوهيږي.

**پوښتنه**

کله مو پر نستعليق خط او کړکي قلم په يوه څو توريزه کلمه کې له نورو تورو سره د (د) توری په ترکيبی ډول ليکلای دی؟



**فعاليت**



پر کړکي قلم له نورو تورو سره د (د) توري په بېلابېلو کلمو کې د موقعيت په اړوند بحث وکړئ، وروسته يې په ژورې پاملرنې له پورتنی نمونې سره سم په خپلو کتابچو کې تمرين کړئ.

**کورنۍ دنده**

د کرسي خط پر مخ پر پنسل او يا خود کار قلم د (د) توری له پورتنۍ نمونې سره سم په خپلو کتابچو کې تمرين کړئ.


**پنځم لوست**


## له نورو تور سره د (ر) توري ترکیب

**موخه:** زده کوونکي به پر نستعلیق خط په یوازې او یا ترکیبي ډول د (ر) توري پر خطاطۍ او ټکو ایښودلو وپوهیږي.

**پوښتنې**

څه فکر کوئ چې د (ر) توری په ترکیبي ډول په کومو برخو کې خطاطي کیږي؟
ستاسو په اند د (ر) توری له څو ټکو جوړ شوی دی او د کرسي خط په کومه برخه کې خطاطي کیږي؟



**فعالیت**

د کرسي خط پر مخ د نستعلیق خط له اصولو سره سم د (ر) توری د پورتنۍ جملې په کلمو کې پر کړکي قلم مشق او تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

په کلمو کې له نورو تورو سره د (ر) توري ترکیب ته پاملرنه وکړئ، وروسته یې پر پنسل او یا خودکار قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ، بله ورځ یې ټولګي ته راوړئ.


**شپږم لوست**

## له نورو تورو سره د (س) توري ترکیب


**موخه:** له نورو تورو سره د (س) توري له خطاطۍ، ټکو اېښودلو او پر ترکیب به زده کوونکي وپوهیږي.

**پوښتنې**

څه فکر کوئ په لاندې جمله کې څو وارې د (س) توری له نورو تورو سره د کلمو په کومو برخو کې په ترکیبي ډول خطاطي شوی دی؟



**فعالیت**



پورتنۍ نمونې د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط او کړکې قلم مشق او تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

د کرسي خط له پاسه له نورو تورو سره د (س) توري حرکت او ترکیب پر پنسل او یا خودکار قلم تمرین کړئ.

**اووم لوست**


## له نورو تورو سره د (ص) توري ترکیب


**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط پر مخ او کړکي قلم د (ص) توري ترکیب له نورو تورو سره د ټکو ایښودلو پر بنې حرکت او ترکیب وپوهیږي.

**پوښتنې**

کله مو د کرسي خط پر مخ د نستعلیق خط له اصولو سره سم د(ص) توری په څو توریزو کلمو کې خطاطي کړی دی؟

د لاندینی جملې په کلمو کې د (ص) توری په ترکیبي ډول په کومو برخو کې مشق شوی دی؟



**فعالیت**

په خپلو کتابچو کې د پورتنۍ جملې په هکله بحث وکړئ، وروسته یې د کرسي خط له پاسه پر کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ جمله پر کړکي قلم د کرسي خط له پاسه له نمونې سره سم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.


اتم لوست

## له نورو تورو سره د (ط) توري ترکیبونه

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه پرکړکي قلم د یوې جملې په څو توریزو کلموکې د (ط) توري په حرکتونو اوترکیب و پوهیږي.

**پوښتنې**

آیا تاسو ویلای شې چې د (ط) توری د څو توریزو کلمو په کومه برخه کې خطاطي کیږي؟
ستا سو په نظر په لاندې جمله کې د (ط) توری د کرسي خط په کومه برخه کې دی؟



**فعالیت**



په خپلو ډلو کې د (ط) توري د کلمو په پیل، منځ او پای کې پر حرکتونو، ټکو اینښودلو او ترکیب خبرې وکړئ، وروسته پورتنی نمونې ته په کتو او کرسي خط ته په پاملرنې یې پر کړکي قلم په خپلو کتابچو کې تمرین کړئ.

**کورنی دنده**

پورتنی نمونې د نستعلیق خط له اصولو سره سم پر پنسل او یا خودکار قلم په خپلو کتابچو کې تمرین کړئ، بله ورځ یې ټولګي ته راوړئ.

**نهم لوست**


## له نورو تورو سره د (ع) توري ترکيب


**موخه:** زده کوونکي به ديوې جملې په څو توريزو کلمو کې د (ع) توري پر ټکو ايښودلو او ترکيب وپوهيږي.

**پوښتنې**

په لاندينۍ نمونه کې په کړکي قلم د (ع) توري د ټکو ايښودلو حرکتونو او ترکيب په اړوند څه پوهيږي؟

په لاندې جمله کې د (ع) توری له نورو تورو سره په لومړي سر، منځ او اخر کې د ترکيب په اړوند څه ويلای شئ؟



**فعاليت**

د کرسي خط له پاسه پر نستعليق خط او کړکي قلم پورتنۍ نمونه په خپلو کتابچو کې د تختې له مخې مشق او تمرين کړئ.

**کورنۍ دنده**

له پورتنۍ نمونې سره سم په کړکي قلم له نورو تورو سره د (ع) توری ترکيب کړئ، وروسته يې د کرسي خط له پاسه پر خود کار او يا پنسل قلم په خپلو کتابچوکې مشق او تمرين کړئ


**لسم لوست**

## له نورو تورو سره د (ف) توري ترکیبونه

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه د نستعلیق خط له اصولو سره سم د کلمو په پیل، منځ او پای کې د (ف) توري ترکیب او خطاطي وپوهیږي.

**پوښتنه**

په لاندې نمونه کې د (ف) توري ترکیب له کومو تورو سره دی او څه ډول مشق شوی دی؟




**فعالیت**



له نورو تورو سره د (ف) توري د ترکیب په باب نستعلیق خط ته پاملرنه وکړئ، وروسته یې د یوې کلمې په پیل، منځ او پای کې په پام کې ونیسئ او پر کړکي قلم یې په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونه پر پنسل او یا خودکار قلم په خپلو کتابچو کې څو واري تمرین کړئ.

**يوولسم لوست**


## له نورو تورو سره د (ق) توري يو ځای کيدل

**موخه:** زده کوونکي به په ښو توريزو کلمو کې د(ق) توري ټکو ايښودل او حرکتونه زده او د (ق) توري ترکيب به پر کرسي خط د نستعليق خط له اصولو سره سم وپوهيږي.

**پوښتني**

د لاندې نمونې په اړوند څه پوهيږئ، څه ډول له نورو تورو سره ترکيب شوی دی؟

د يوې کلمې په پيل، منځ او پای کې د (ق) توري د بدلونو په اړوند څه ويلای شئ؟



**فعاليت**



د کرسي خط پر مخ پر نستعليق خط پورتنۍ نمونه په يوه کلمه او جمله کې له نورو تورو سره پخپلو کتابچو کې پر کړکي قلم تمرين کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ جمله په پنسل او يا خودکار قلم ښو واري په خپلو کتابچو کې تمرين کړئ.

## دوو لسم لوست


# له نورو تورو سره د (ک) توري ترکیب

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط د (ک) توري پر ترکیب او د کلمو په پیل، منځ او پای کې پر ټکو ایښودلو، خطاطی او ښېلا ښېلو حرکتونو وپوهیږي

**پوښتنې**

د (ک) توری څه ډول په یوه کلمه کې له نورو تورو سره خطاطي کوئ؟

د ( ک) توری پر څو طریقو خطاطي کیږي؟



**فعالیت**



د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط د یوې جملې د کلمو په پیل او پای کې د (ک) توری په کشدار ډول له نورو تورو سره ټکو ایښودلو او خطاطی ته په پاملرنې سره پورتنی نمونه تمرین کړئ.

**کورنی دنده**


پورتنی نمونه په ژورې پاملرنې سره پر کړکي قلم او یا پنسل د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط تمرین کړئ.

## له نورو تورو سره د (ل) توري ترکیب

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط د (ل) توري پرتڅکو اېښودلو او حرکتونو وپوهيږي.

**پوښتنې**

د کلمې په پیل، منځ او پای کې د (ل) توري د مفرد ترکیب په هکله څه ویلای شئ؟
په لاندې جمله کې د (ل) توری د کلمې په کومه برخه کې د ترکیب او اتصال په بڼه خطاطي شوی دی؟




**فعالیت**



په خپلو ډلو کې د (ل) توری د کلمې په پیل، منځ او پای کې په ترکیب باندې بحث وکړئ، وروسته پورتنۍ نمونه پر کړکي قلم په خپلو کتابچو کې تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونه پر پنسل او یا خودکار قلم د کرسي خط له پاسه څو وارې تمرین کړئ، بله ورځ یې ټولګي ته راوړئ.


**څوارلسم لوست**

## له نورو تورو سره د (م) توري ترکیب

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط د کلمې په پیل، منځ او پای کې له نورو تورو سره د (م) توري پر خطاطۍ، حرکتونو او ترکیب وپوهیږي.

**پوښتنه**

ستاسو په نظر د (م) توري ټکي څه ډول ایښودل او له کومو تورو سره د کلمې په پیل، منځ او پای کې ترکیب شوی دی؟



**فعالیت**



له نورو تورو سره د (م) توري په ترکیبي بڼه د کلمې په پیل، منځ او پای کې خبرې او بحث وکړئ، وروسته یې پر کړکي قلم د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

**کورنۍ دنده**

له نورو تورو سره د (م) توري ترکیب ته په پاملرنې سره، پورتنۍ جمله پر نستعلیق خط او خودکارقلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.


**پنځه لسم لوست**

## له نورو تورو سره د (ن) توري ترکیب

**موخه:** د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط او کږکي قلم له نورو تورو سره د (ن) توري پر ټکو ایښودلو، خطاطی او حرکتونو به زده کوونکي وپوهیږي.

**پوښتنې**

د کلمو په پیل، منځ او پای کې له نورو تورو سره د لاندې نمونې په ترکیب شوو تورو کې څو حرکتونه لیدل کیږي؟
ستاسو په نظر د (ن) توری په مفرد ډول د کلمو په کومه برخه کې مشق کیږي؟



(د الحجرات لسمي سورې ترجمه)

**فعالیت**



د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط او کږکي قلم د پورتنۍ جملې د کلمو په پیل، منځ او پای کې د (ن) توري ترکیبونه او حرکتونه څو واري په خپلو کتابچو کې مشق کړئ.

**کورنۍ دنده**

د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط، پنسل او یا خودکار قلم پورتنۍ نمونه څو واري په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

**شپاړلسم لوست**

## له نورو تورو سره د (و) توري ترکیب

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط او کړکي قلم له نورو تورو سره د (و) توري پر ټکو اېښودلو، خطاطی او حرکتونو وپوهېږي.

**پوښتني**

ستاسو په نظر د یوې څو توریزې کلمې په جوړښت کې د (و) توری په کومه برخه کې موقعیت لري؟

د یوې یا څو کلمو لرونکي جملې په جوړښت کې د (و) توري رول څه دی او څه اهمیت لري؟



(د توبې سورې د 119 آیت ترجمه)



**فعالیت**

پورتنی نمونه د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط او کړکي قلم په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنی نمونې د کرسي خط له پاسه پر پنسل او یا خودکار قلم په خپلوکتابچو کې تمرین کړئ.

**اووه لسم لوست**

## له نورو تورو سره د (هـ) توري ترکیب

**موخه:** زده کوونکي به دکرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط او کړکي قلم له نورو تورو سره د (هـ) توري پر حرکتونو او ترکیبونو وپوهیږي.

**پوښتني**

کله مو د (هـ) توری په یوه کلمه کې له نورو تورور سره دحرکتونو او ترکیبونو له مخې خطاطی کړي ده؟

د پورتنۍ نمونې د کلموپه پیل، منځ او پای کې د (هـ) توري کومې بڼې ګورئ، څه شکل یې غوره کړی او څو ډوله (هـ) لیدل کیږي؟






**فعالیت**



د (هـ) توري د ترکیبونو او، حرکتونو او د خطاطۍ په بېلا بېلو ډولونو یې خبرې وکړئ، وروسته پورتنۍ جمله د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط او کړکي قلم په خپلو کتابچو کې تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونه پر پنسل او یا خودکارقلم څو واري په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ، بله ورځ یې ټولګي ته راوړئ.


اته لسم لوست


## له نورو تورو سره د (ی) توري ترکیب

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط او کړکي قلم د یوې کلمې په پیل، منځ او پای کې د (ی) توري پر ټکو ایښودلو، حرکتونو او ترکیب وپوهیږي.

**پوښتنه**

د څو توریزې کلمې په پیل، منځ او پای کې د (ی) توری په یوه جمله کې څنګه خطاطي کوئ؟



**فعالیت**

پورتنۍ تمرین د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط او کړکي قلم د تورو ترکیب ته پر پاملرنې خطاطي کړئ.


**کورنۍ دنده**

د پورتنۍ نمونې د خپلو ځانګړتیاوو حرکتونو او ترکیبونوته پر پاملرنې سره په یوه جمله کې پر پنسل او یا خودکار قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

# دویم څپرکی

په شکسته نستعلیق خط د تورو د خطاطۍ بڼه، ټکو ایښودنه او ترکیب

## دشکسته نستعلیق خط د ټکو ایښودلو طریقه



نولسم لوست


## له نورو تورو سره د (ا، ب) تورو ترکیب

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه پر نستعليق خط او کړکي قلم له نورو تورو سره د (الف او ب) له ترکيب، خطاطۍ او ښکو اېښودلو سره بلد شي.

**پوښتنې**

ستا سو په آند شکسته خط له نورو خطونو سره څه توپير لري؟

ستا سو په نظر په لاندې شکل کې (الف، ب) څه ډول ليکل شوي دي؟




**فعاليت**



پورتنۍ نمونه کرسي خط ته پر پاملرنې سره خطاطي کړئ، مرکب توري يې د ښکو اېښودلو او له نورو تورو سره ترکيبولو او د نستعليق شکسته خط قاعدو ته پر پاملرنې پر کړکي قلم مشق او تمرين کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونه پر پنسل او يا خودکار قلم څو وارې په خپلو کتابچو کې مشق او تمرين کړئ، بله ورځ يې ټولګي ته راوړئ.


**شلم لوست**


## له نورو تورو سره د (ج، د) تورو ترکیب

**موخه:** د کرسي خط له پاسه پر شکسته او نستعلیق خط او کږکي قلم له نورو تورو سره د (ج، د) تورو پر ترکیب، ټکو ایښودنه او خطاطی د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتني**

په لاندینیو کلمو کې د (ج، د) توري په ترکیبي ډول مشق شوي دی، د هغو نومونه واخلئ.
د هغو تورو چې په لاندینیو کلمو کې له (ج، د) تورو سره په ترکیبي ډول لیکل شوي دي، نومونه واخلئ؟



**فعالیت**

پورتني توري د کرسي خط له پاسه د شکسته نستعلیق خط قاعدو ته په پاملرنې سره په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

**کورنی دنده**

پورتنی نمونه پر پنسل او یا خودکار قلم څو واري د کرسي خط له پاسه مشق او تمرین کړئ.

## یو ویشتم لوست

# له نورو تورو سره د (ر، س) تورو ترکیبر

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه پر شکسته او نستعلیق خط له نورو تورو سره د (ر، س) تورو په ترکیب وپوهیږي.

**پوښتنې**

ستاسو په نظر د شکسته خط ترکیبونه د نستعلیق خط له ترکیبونو سره څه توپیر لري؟
په لاندې نمونه کې څو توري له نورو توروسره په ترکیبي ډول مشق شوي دي؟







**فعالیت**

پر شکسته نستعلیق خط د (ر، س) تورو د خطاطۍ په اړوند خپل منځ کې بحث وکړئ، وروسته پورتنۍ نمونه د شکسته نستعلیق خط قاعدو ته په ژورې پاملرنې سره پر کړکي قلم د کرسي خط له پاسه په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونې ته په ژورې پاملرنې سره څو توري په شکسته نستعلیق خط او کړکي قلم په ترکیبي ډول په خپلو کتابچوکې مشق او تمرین کړئ.

**دوه ویشتم لوست**


## له نورو تورو سره د (ص، ط) تورو ترکیب


**موخه:** زده کوونکي به د (ص، ط) تورو له خطاطۍ، ټکو اېښودلو سره په مفرد او ترکیبي ډول بلدتیا پیدا کړي.

**پوښتني**

په لاندېنۍ نمونه کې کوم توري پر شکسته نستعلیق خط له (ص، ط) تورو سره یو ځای خطاطي شوي دي؟

لاندې کلمې له کومو تورو څخه جوړې شوي دي؟





**فعالیت**

پورتنۍ نمونه د کرسي خط له پاسه پر کړکي قلم له (ح، ا، و) تورو سره په ترکیبي ډول په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونې پر شکسته نستعلیق خط پر پنسل او یا خودکار قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

## له نورو تورو سره د (ع، ف) تورو ترکيب

**موخه:** زده کوونکي به په مفرد او ترکيبي بڼه د (ع، ف) تورو له خطاطۍ او ټکو ايښودلو سره آشنا شي.

**پوښتنې**

کله مو د (ع، ف) توري په ترکيبي بڼه مشق کړي دي؟
په لاندې نمونه کې کومې کلمې له (ع، ف) تورو سره په ترکيبی بڼه مشق او تمرين شوي دي؟






**فعاليت**

د پورتنۍ نمونې مفرد او مرکب توري د کرسي خط له پاسه پر شکسته نستعليق خط په خپلو کتابچو کې مشق او تمرين کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونې ته پاملرنه وکړئ، بيا هغه څو واري پر شکسته نستعليق خط پر پنسل اويا خودکارقلم په خپلو کتابچو کې مشق اوتمرين کړئ.

**ځلرویشتم لوست**

## له نورو تورو سره د (ق، ک) تورو ترکیب


**موخه:** پر شکسته نستعلیق خط، مرکب او مفرد شکل د (ق، ک) توري پر کړکي قلم له خطاطی او ټکو ایښودنو سره به زده کوونکي بلد شي.

**پوښتني**

ستاسو په آندلاندې توري یو له بل سره څه توپیر لري او څه ډول مشق شوي دي؟

پر شکسته نستعلیق خط د لاندې تورو د یو ځای کیدو په اړوند څه ویلای شئ؟



**فعالیت**

په خپلو ډلو کې د پورتني نموني په اړوند خبري او بحث وکړئ، وروسته یې په خپلو کتابچو کې تمرین کړئ او بیا یې د ننداري لپاره ټولگي ته راوړئ.

**کورنۍ دنده**

د کتاب په نمونو سربیره مفرد او مرکب توري په دوامداره توگه په یوه کلمه کې پر شکسته نستعلیق خط پر پنسل او یا خود کار قلم په خپلو کتابچو کې مشق اوتمرین کړئ.

**پنځه ویشتم لوست**


## له نورو تورو سره د (ل، م، ن) تورو ترکیب


**موخه:** د کرسي خط له پاسه د شکسته نستعلیق خط قاعدو ته په پاملرنې سره د (ل، م، ن) تورو له خطاطۍ او ټکو ایښودلو سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنې**

څه فکر کوئ په پخوانیو ټولګیو کې له دې تورو سره بلد وئ او کله مو هغه تمرین کړي دي؟

ستا سو په نظر د لاندینیو کلمو په ترکیب کې ډیر کوم توري کارول شوي دي؟



**فعالیت**

پورتنۍ نمونه د کرسي خط له پاسه د شکسته نستعلیق خط له اصولو سره سم څو واري په خپلو کتابچوکې مشق کړئ.

**کورنۍ دنده**

له خپلې خوښې سره سم پورتنۍ نمونه پر پنسل او یا خودکار قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.


شپږ ویشتم لوست

## له نورو تورو سره د (و، ه) تورو ترکیب

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه پر شکسته نستعلیق خط د (و، ه) تورو له خطاطۍ او ټکو ایښودلو سره آشنا شي.

**پوښتنې**

څه فکر کوئ (و، ه) توري پر شکسته نستعلیق خط او مرکب ډول څنګه خطاطي کیږي؟
کله مو کومه کلمه د کرسي خط له پاسه پر شکسته نستعلیق خط پر کړکي قلم مشق کړې ده؟




**فعالیت**



پورتنۍ نمونې د کرسي خط له پاسه په ژورې پاملرنې سره په خپلو کتابچو کې مشق کړئ، په خپلو تمرینونو کې باید پاملرنه وکړئ، تر څو وکولای شي، هغه سم خطاطي کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونې پر شکسته نستعلیق خط پر پنسل او یا خودکار قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

**او ویشتم لوست**


## له نورو تورو سره د (ی) تورو ترکیب

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه پر شکسته نستعلیق خط په مفرد اومرکب شکل د (ی) توري له خطاطۍ او ټکو ایښودلو سره بلد شي.

**پوښتنې**

ستاسو په نظر د (ی) توری په څو ډولو خطاطي او ټکي یې ایښودل کیږي؟
څه فکر کوئ، کوم توري په مرکب ډول مشق او تمرین شوي دي؟





**فعالیت**

پورتنۍ نمونه د کرسي خط له پاسه داسي ولیکئ، چې توري په خپل ځای کې راشي د شکسته نستعلیق خط اصولو ته په پاملرنې یې پر کرکي قلم مشق او تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

د (ی) توری د کرسي خط له پاسه د شکسته نستعلیق خط قاعدو ته په پاملرنې سره پر پنسل او یا خودکار قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

# دریم څپرکی

## د کلمو په بېلابېلو موقعیتونو په نسخ خط تورو د حرکتونو او تګو اېښودلو طریقه

| د پای توري | د منځ توري | د پیل توري | مفرد توري |
| --- | --- | --- | --- |



**اته ویشتم لوست**


## له نورو تورو سره د (الف) توري ترکیب


**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه پر کږکي قلم له مفردو تورو سره د کلمو په پیل، منځ اوپای کې پر نسخ خط د (الف) توري پر ټکو ایښودلو او خطاطۍ وپوهیږي.

**پوښتني**

کله مو د کرسي خط له پاسه پر کږکي قلم او نسخ خط د (الف) توری تمرین کړی دی؟

د (الف) توري په لوړوالي کې څو ټکي مشق او لیکل شوي دي؟



**فعالیت**

د کرسي خط له پاسه پر نسخ خط او کږکي قلم د (الف) توري د ټکو ایښودل مشق او تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونې په ژورې پاملرنې سره پر پنسل او یا خودکار قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

**نه ویشتم لوست**


## له نورو تورو سره د (ب) توري ترکیب


**موخه:** زده کوونکي به د کلمې په پیل، منځ او پای کې په مفردو تورو کې پر نسخ خط د (ب) توري په ترکیبونو، حرکتونو او ټکو ایښودلو وپوهیږي.

**پوښتنې**

کله مو د نمونې په ډول په دې علامو د کرسي خط له پاسه مشق او تمرین کړی دی؟

ستاسو په نظر د (ب) توری د کلمو په پیل، منځ اوپای کې له نورو تورو سره څه ډول ترکیب کیږي؟



**فعالیت**

پورتنۍ جمله د کرسي خط له پاسه د نسخ قاعدې او اصولو ته پر پاملرنې سره پر کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونې ته په ژورې پاملرنې سره پر پنسل یا خودکار قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین وکړئ.

**دیرشم لوست**


## له نورو تورو سره د (ج) توري ترکیب

**موخه:** زده کوونکي به پر نسخ خط د (ج) توري له ټکو ایښودنې او له نورو تورو سره پر ترکیب وپوهیږي.

**پوښتنې**

کله مو د کرسي خط پر مخ په نسخ خط د (ج) توری اندازه کړی اوټکي مو ورته ایښي دي؟
ستاسو په نظر ترکیب شوي توري د جملې په پیل او منځ کې څه ډول دي؟






**فعالیت**



د (ج) توري د ټکو ایښودلو او حرکتونو د ځانګړتیاوو او له نورو تورو سره یې د ترکیب په اړوند بحث وکړئ، وروسته هغه کلمې چې د (ج) توری پکې راغلی وي د کرسي خط پر مخ اوکړکي قلم په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنیو نمونو ته پاملرنه وکړئ، وروسته یې پر پنسل او یا خودکار قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

**یو دیرشم لوست**

## له نورو تورو سره د (د) توري ترکیب

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه پرنسخ خط د (د) توري له ټکو ایښودلو او حرکتونو سره بلد شي.

**پوښتني**

کله مو د (د) توری له نورو تورو سره ترکیب کړی د کرسي خط پر مخ مو پر نسخ خط خطاطي کړی دی؟

ستاسو په نظر په لاندې جمله کې د (د) توری له نورو تورو سره خطاطي شوی دئ؟




**فعالیت**



په خپلو کتابچو کې د (د) توري د ټکو ایښودلو،حرکتونو او له نورو تورو سره د کلمو د بیلا بیلو موقعیتونو په اړوند په خپلو کې بحث وکړئ، وروسته هر فعالیت پر کړکي قلم په خپلو کتابچو کې خطاطي کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونه پر پنسل او یا خودکار قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.


## دوه دیرشم لوست


# له نورو تورو سره د (ر) توري ترکیب

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه پر نسخ خط د (ر) توري له ټکو اېښودلو حرکتونو او له نورو تورو سره پر ترکیب وپوهېږي.

**پوښتنې**

ستاسو په نظر د (ر) توری د کلمو په کومه برخه کې له نورو تورو سره یو ځای مشق کیږي؟ څه فکر کوئ په لاندینۍ نمونه کې د (ر) توری پر نسخ خط له نورو تورو سره څه ډول ترکیب شوي دی؟



**فعالیت**

د (ر) توري ټکو اېښودلو ته په پاملرنې سره یې د کرسي خط له پاسه پر نسخ خط او کړکي قلم په خپلو کتابچو کې خطاطي کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونه د نسخ خط د ځانګړتیاوو په پام کې نیولو سره پر پنسل او یا خودکار قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

**درې دیرشم لوست**


## له نورو تورو سره د (س) توري ترکیب


**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط پر مخ پر نسخ خط د (س) توري له ټکوایښودلو، حرکتونو، پر کړکي قلم له خطاطۍ سره بلد شي.

**پوښتنې**

ستاسو په نظر د (س) توری له نورو تورو سره څه ډول په ترکیبی توګه مشق او خطاطي کیږي؟

ایا د (س) توري د خطاطۍ او له نورو تورو سره یې د ترکیب په اړوند څه ویلاې شئ؟



**فعالیت**

په خپلو ډلو کې د (س) توري د کلمو په بېلا بېلو بر خوکې د ترکیب په اړوند بحث وکړئ، وروسته پورتنۍ بیت پر نسخ خط د کرسي خط له پاسه مشق کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونه پر پنسل او یا خودکار قلم څو وارې په خپلوکتابچو کې مشق او تمرین کړئ

### څلور دیرشم لوست

## له نورو تورو سره د (ص) توري ترکیب

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط پر مخ او نسخ خط له ټکو ایښودلو او له نورو تورو سره پر ترکیب وپوهیږي.

**پوښتني**

کله مو د (ص) توری له نورو تورو سره پر کړکي قلم په کلمو کې پر نسخ خط مشق کړي دی؟
څه فکر کوئ، د (ص) توری د کلمو په کومو برخو کې په پیوسته ډول مشق شوي دی؟






**فعالیت**

د کلمو په بېلا بېلو برخو کې د (ص) توري ټکو ایښودلو اوترکیب ته ژوره پاملرنه وکړئ، وروسته پورتنۍ نمونې پر کړکي قلم پخپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونه د نسخ خط ځانګړتیاووته په پاملرنې پر پنسل او یا خود کار قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.


**پنځه دېرشم لوست**

## له نورو تورو سره د (ط) توري ترکيب

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط پر مخ او نسخ خط له نورو تورو سره پر ټکو اېښودلو او ترکيبونو وپوهېږي.

**پوښتنې**

ستاسو په نظر د (ط) توری د کلمو په کومو برخو کې په ترکيبي ډول مشق کېږي؟
څه فکر کوئ چې د (ط) توری څو ټکي لري، د کلمو په کومو برخو کې په يوازې ډول مشق کېږي؟






**فعاليت**

پورتنۍ نمونې ته ژوره پاملرنه وکړئ، وروسته يې پر کرکي قلم د کرسي خط له پاسه مشق کړئ.

**کورنۍ دنده**

د (ع) توری د کلمو په پيل، منځ او آخر کې پر پنسل او يا کرکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرين کړئ، بله ورځ يې ټولګي ته راوړئ.

### شپږ دیرشم لوست


## له نورو تورو سره د (ع) توري ترکیب

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه پر نسخ خط د (ع) توري له ټکوایښودلواوترکیب سره بلد شي.

**پوښتنې**

څه فکر کوې د (ع) توری د کلمو په منځ کې څه ډول مشق کیږي؟

ستاسو په نظر د (ع) توری د کلموپه بېلا بېلو برخو کې څه ډول خطاطي کیږي؟






**فعالیت**

پورتنۍ نمونې ته ژوره پاملرنه وکړئ، وروسته یې پر کړکي قلم د کرسي خط له پاسه مشق کړئ.

**کورنۍ دنده**


د (ع) توری د کلمو په پیل، منځ او آخر کې پر پنسل او یا کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ، بله ورځ یې ټولګي ته راوړئ.

**اووه دیرشم لوست**

## له نورو تورو سره د (ف) توري ترکیب

**موخه:** زده کوونکي به د (ف) توري پر ټکو ايښودلو او د نسخ خط له اصولو سره سم پر ترکيبونو وپوهيږي.

**پوښتني**
ستاسو په اند د (ف) توری د کرسي خط په کومه برخه کې دی او څو ټکي لري؟
کله مو پر کړکي قلم د نسخ خط له اصولو سره سم د (ف) توري ټکي ايښي دي






**فعاليت**
پورتنی نمونه هغه ترکیبونو ته پر پاملرنې په کړکي قلم د کرسي خط له پاسه پخپلو کتابچو کې مشق کړئ.

**کورنی دنده**
پورتنی نمونه پر پنسل او یا خودکار قلم څو واري په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ، بله ورځ يې ټولګي ته راوړئ.


### اته دیرشم لوست

## له نورو تورو سره د (ق) توري ترکیب

**موخه:** زده کوونکي به د (ق) توري پر ټکو ایښودلو او پر نسخ خط به یې له نورو تورو سره پر ترکیبونو وپوهیږي.

**پوښتنې**

ستاسو په نظر د (ق) توري ټکي څه ډول ایښودل کیږي او پر څو طریقو خطاطي کیږي؟
څه فکر کوې د (ق) توري د کلمو په کومو برخو کې په ترکیبي ډول لیکل کیږي؟






**فعالیت**

د (ق) توري ټکو ایښودلو او د کلمو په بېلا بېلو برخو کې ترکیب ته پر پاملرنې یې د کرسي خط له پاسه پر کړکي قلم مشق کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونه د کرسي خط له پاسه پر پنسل او یا خودکار قلم څو وارې په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

**نه دیرشم لوست**

## له نورو تورو سره د (ک) توري ترکیب

**موخه:** زده کوونکي به د (ک) توري د ټکو ایښودلو له بڼې، د کرسي خط پر مخ او نسخ خط له اصولو سره سم پر ترکیبونو وپوهیږي.

**پوښتنې**

په لاندینیو نمونو کې د (ک) توری د کلمو په کوموځایونو کې له نورو تورو سره ترکیب شوی دی؟

د (ک) توري په اندازه کولو او ټکو ایښودلو کې څه ډول ټکي کارول شوي دي




**فعالیت**



د ټکو ایښودلو، حرکتونو د (ک) توري له تورو سره د ترکیبونو په اړوند په خپل منځ کې بحث وکړئ، وروسته پورتنی نمونې پر کړکي قلم د کرسي خط له پاسه مشق کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ جمله پر پنسل او یا خود کار قلم په خپلو کتابچو کې د کرسي خط له پاسه مشق او تمرین کړئ.

## څلوېښتم لوست


# له نورو تورو سره د (ل) توري ترکیب

**موخه:** زده کوونکي به د (ق) توري پر ټکو اېښودلو او پر نسخ خط به يې له نورو تورو سره پر ترکیبونو وپوهیږي.

**پوښتنې**

په لاندې نمونې کې څه شیان ګورئ؟

کله مو د (ل) توری له نورو تورو سره يو ځای مشق کړی دی؟






**فعالیت**

پورتنۍ نمونې ته ژوره پاملرنه وکړئ، وروسته يې د کرسي خط له پاسه پر نسخ خط اوکړکي قلم مشق کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونې پر پنسل او یاخودکار قلم په خپلو کتابچو کې څو وارې مشق او تمرین کړئ

## یو څلویښتم لوست


# له نورو تورو سره د (م) توري ترکیب


**موخه:** زده کوونکي به د (م) توري له ټکو ایښودلو او له نورو تورو سره د کرسي خط له پاسه پر نسخ خط مشق وکړای شي.

**پوښتنې**

په لاندې نمونه کې (م) د نورو تورو په کومه برخه کې ترکیب شوی دی؟

کله مو د (م) توری له نورو تورو سره یو ځای خطاطي کړی دی؟



**فعالیت**

د (م) توري ټکوایښودلو او له نورو تورو سره یې ترکیب ته پر توجه کولو پورتنۍ جمله د کرسي خط له پاسه پر کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق کړئ.

**کورنۍ دنده**


د (م) توري حرکتونه او ترکیبونه په پورتنۍ نمونه کې وګورئ، بیا یې تمرین کړئ

دوه څلویښتم لوست

## له نورو تورو سره د (ن) توري ترکیب

**موخه:** زده کوونکي به د (ن) توري له ټکو اېښودلو او له نورو تورو سره د کرسي خط له پاسه پر نسخ خط وپوهېږي.

**پوښتنې**
په لاندې نمونه کې د (ن) توري ترکیبونه د کلمو په کومو برخو کې ښکاري؟
ستاسو په نظر په کلمو کې پر کړکي قلم د (ن) توري خطاطي څنګه ګورئ؟






**فعالیت**
په پورتنۍ نمونه کې د (ن) توري موقعیت ته په کلموکې ژوره پاملرنه وکړئ، وروسته پر کړکي قلم د کرسي خط له پاسه مشق کړئ.

**کورنۍ دنده**
پورتنۍ نمونه څو وارې په کړکي قلم او یا خودکار قلم په خپلو کتابچوکې مشق او تمرین کړئ.

## درې څلوېښتم لوست

# له نورو تورو سره د (و) توري ترکیب

**موخه:** زده کوونکي به د (و) توري له ټکو اېښودلو او له نورو تورو سره د کرسي خط له پاسه پر نسخ خط پرمشق وپوهېږي.

**پوښتنې**

ستاسو په نظر د (و) توری څوټکي لری، د کلمو په کومه برخه کې به یې په ترکیبي ډول مشق کړئ؟

کله مو د (و) توری پر نسخ خط او کړکي قلم خطاطي کړی دی؟






**فعالیت**

د پورتنۍ نمونې په اړوند په خپل منځ کې بحث وکړئ، وروسته هر یو د کرسي خط له پاسه پر کړکي قلم مشق کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ جمله پر کړکي قلم او یا خودکار په خپلو کتابچو کې څو وارې مشق او تمرین کړئ، بیا یې ټولګي ته راوړئ.

## څلور څلویښتم لوست


# له نورو تورو سره د (ه، ه) توري ترکیب

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه پر نسخ خط د (ه) توري پر ټکو ایښودلو او له نورو تورو سره پر ترکیبونو وپوهیږي.

**پوښتنې**

کله مو تر اوسه د (ه) توري له دوه ډوله ټکو ایښودلو سره پر نسخ خط مشق کړی دی؟

څه فکر کوئ د (ه) توری له نورو تورو سره څنګه یو ځای خطاطي کیږي؟






**فعالیت**

پورتنۍ نمونې ته ژوره پاملرنه وکړئ، وروسته یې پر نسخ خط په خپلو کتابچوکې مشق کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ جمله پر پنسل او یا خودکار قلم په خپلو کتابچو کې څو وارې مشق او تمرین کړئ.

### پنځه څلويښتم لوست


## له نورو تورو سره د (ی) توري ترکيب


**موخه:** زده کوونکي به د (ی) توري پر ټکو ايښودلو او له نورو تورو سره د نسخ خط پر ترکيبونو وپوهيږي.

**پوښتني**

ستاسو په نظر د (ی) توري ټکي څنګه ايښودل شوي او څه ډول له نورو تورو سره ترکيب شوی دی؟

څه فکر کوې د (ی) توری څو ډوله خطاطي کيږي؟



**فعاليت**

پورتنۍ نمونه پر کړکي قلم د کرسي خط له پاسه پر نسخ خط په خپلو کتابچو کې مشق او تمرين کړئ.

**کورنۍ دنده**

پاسنۍ سرمشق پر خودکار او يا پنسل باندې وليکئ او ټولګي ته يې راوړئ.

## شپږ څلويښتم لوست

# کتابت


**موخه:** زده کوونکي به د خطاطۍ پر بېلابېلو طريقو او د کتابت پر قاعدو ليکل او بېلا بېلو کلمو، دکرسي خط پر مخ له نستعليق، نسخ او شکسته نستعليق خط سره آشنا شي.

**پوښتنې**

څه فکر کوئ د خطاطۍ د قاعدو، له بېلا بېلو قلمونو، د کرسي خط له پاسه خطاطۍ سره بلدتيا لرئ؟

په لاندې مشق کې څو ډوله خطونه وينئ؟





**فعاليت**



په پورتنيو نمونو کې د کتابت خطاطۍ قواعد او اصول په درې ډوله (نستعليق، نسخ او شکسته نستعليق) ښودل شوي دي. پورتنيو نمونو ته په ځير وګورئ، وروسته يې پر کرکي قلم او خودکار په خپلو کتابچو کې خطاطي کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونه پر پنسل او خودکار قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرين کړئ بله ورځ يې ټولګي ته راوړئ.

## اووه څلویشتم لوست


# پر نستعلیق خط د چلیپا لیکل

**موخه:** زده کوونکي د خطاطی بر بیلابیلو طریقو چلیپا لیکنې او پر کړ کې قلم د نستعلیق خط له لیکلو سره آشنا شي.


**پوښتنې**

په لاندې نمونه کې کوم ډول خطونه ګورئ؟

ستاسو په نظر په لاندې نمونه کې څو کلمې خطاطي شوي دي؟



**فعالیت**



پورتنۍ نمونه وګورئ وروسته یې د کرسي خط له پاسه د هغه له مخې په خپلو کتابچو کې مشق کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونې ته پاملرنه وکړئ، وروسته یې پر قلم او یا پنسل په خپلو کتابچو کې تمرین کړئ، بله ورځ یې ټولګي ته راوړئ.

## د تور مشق دخطاطۍ طريقه

**موخه:** زده کوونکي به د تور مشق دخطاطۍ پر اصولو او پر کړکي قلم د نستعليق خط له ليکلو سره آشنا شي.

**پوښتني**

په لاندې نمونه کې څه وينئ؟

کله مو کلمې دتور مشق په بڼه پر نستعليق خط او کړکي قلم په يوه پاڼه کې تمرين کړي دي؟





**فعاليت**

پورتنۍ نمونې ته ژوره پاملرنه وکړئ او وروسته يې له نمونې سره سم په خپلو کتابچو کې مشق کړئ.



**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونه يو وار بيا له ټولو ځانګړتيا وو سره په خپلو کتابچو کې مشق کړئ، بله ورځ يې ټولګي ته راوړئ.

# دویمه برخه
# د حسن خط د تدریس لارښود

## لومړی لوست

### ۱مخ

**د تدریس وخت (دوه درسي ساعتونه)** **لومړی ساعت**

| | | |
|---|---|---|
| د لوست سر لیک | پر نستعلیق خط له نورو تورو سره د (الف) توري ترکیب | |
| عمومي موخې | پر نستعلیق خط د الف توري له نورور تورو سره پر ټکو ایښودلو، د قلم پر حرکتونو او خطاطۍ به زده کوونکي وپوهیږي | |
| د زده کړې موخې<br>- پوهنیزې<br>- مهارتي<br>- ذهنيتي | له زده کوونکو څخه هیله کیږي چې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي:<br>- زده کوونکي به له نورو تورو سره د الف توري پر ټکو ایښودلو، حرکتونو او د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خطاطۍ باندې وپوهیږي.<br>-زده کوونکي به د نستعلیق خط له اصولو سره سم له نورو تورو سره د الف توري پر ټکو ایښودلو او حرکتونو باندې وپوهیږي<br>- زده کوونکي پر نستعلیق خط د الف توري له حرکتونو او خطاطۍ سره مینه پیدا کړي. | |
| د تدریس لارښود | ډله ییز فعالیتونه، ځانګړي او ډله ییز فعالیتونه، پوښتنې او ځوابونه | |
| دتدریس وسایل | کتاب، کتابچه، کړکي قلم، پنسل، پنسل پاک، تباشیر، مشواني، خط کش، قط زن | |
| د ارزونې لاره | د خپل ډاډ تر لاسه کولو په موخه له زده کوونکو پوښتنې وکړئ | |
| لومړني فعالیتونه | سلام ورکول، احوال پوښتنه، د ټولګي تنظیم، د حاضرۍ اخیستل، د نوې کال مبارکي، د پنځم ټولګي د درسي کتاب یادونه او له نوي لوست سره يې اړیکې ورکول | ۵ دقیقې |
| | انګیزه وي پوښتنې<br>کله مو د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط او کړکي قلم له نورو تورو سره د الف توری په ترکیبي بڼه خطاطي کړې ده؟ | ۵ دقیقې |

| د ښوونکي فعالیتونه | مدت زمان |
|---|---|
| • پر نستعلیق خط او کړکي قلم له نورو تورو سره د الف توري د حرکتونو په اړوند زده کوونکو ته معلومات ورکړئ<br>• پر نستعلیق خط او کړکي قلم له نورو تورو سره د الف توري د حرکتونو په باب زده کوونکو ته معلومات ورکړئ<br>• زده کوونکو ته لارښوونه وکړئ چې له نورو تورو سره د الف توری څو وارې په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ<br>• د دوی تر سره شوي کارونه اصلاح او پوښتنو ته یې ځوابونه ورکړئ<br>• بشپړ شوي کارونه یې راټول او وارزوئ<br>• له نورو تورو سره د الف توري ترکیب پر کړکي قلم زده کوونکو ته عملاً ور زده کړئ | ۳۵ دقیقه |

**کورنۍ دنده**

د لومړي لوست جمله په خپلو کتابچو کې څو وارې مشق او تمرین کړئ

**اضافي معلومات**

ښاغلی ښوونکی: له نورو تورو سره د الف توري یو ځای ترکیب زده کوونکو ته پر تختې توضیح کړئ. له نورو تورو سره د الف توري ټکو ایښودنه د کړکي قلم پر څوکه لومړی حرکت و رکړئ، بیا د ښي پلو پر څوکه یوه نیمه دایره رسم کړئ، دریم حرکت د کړکي قلم د ښي پلو پر څوکه حرکت ورکړئ، وروسته د الف توری ورسره یو ځای یا وصل کړئ. د لومړي لوست په جمله کې د الف توري دوه ډوله حرکتونه لري، ښه به وي لومړی هغه ته پاملرنه وکړئ، ځکه دا خط پر اصولو او قاعدو ولاړ دی، دا خط د ښکلا له پلوه ډېر ښکلی خط دی، پر ځای خبره ده چې دا خط یې د اسلامي خطونو د ناوې پر نوم یاد کړی دی. چې د کړکي قلم په واسطه ښکلی لیکل کیږي.

**اوه ویشتم لوست**

## ۲۹ مخ

**د تدریس وخت (دوه درسي ساعتونه)** **لومړی ساعت**

| | | |
|---|---|---|
| د لوست سر لیک | له نورو تورو سره د (ی) توري پر نستعلیق خط ترکیب | |
| عمومي موخې | زده کوونکي به پر شکسته نستعلیق خط له نورو تورو سره د (ی) توري پر ټکو ایښودلو او خطاطۍ وپوهیږي | |
| د زده کړې موخې<br>- پوهنیزې<br>- مهارتي<br>- ذهنيتي | له زده کوونکو څخه هیله کیږي چې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي:<br>- زده کوونکي به پر شکسته خط په مفرد او مرکب ډول د (ی) توري پر خطاطۍ وپوهیږي<br>- زده کوونکي به د (ی) توری له نورو تورو سره پر کړکي قلم له خطاطۍ او ټکو ایښودلو سره بلد شي.<br>- زده کوونکي به له نورو تورو سره د (ی) توري له ټکو ایښو دلو او خطاطۍ سره مینه پیدا کړي | |
| د تدریس لارښود | ځانګړې او ډله ییز فعالیتونه، پوښتنې او ځوابونه | |
| دتدریس وسایل | کتاب، کتابچه، کړکي قلم، پنسل، پنسل پاک، تباشیر، مشوانۍ، خط کش، قط زن | |
| د ارزونې لاره | د خپل ډاډ تر لاسه کولو لپاره له زده کوونکو پوښتنې وکړئ | |
| لومړني فعالیتونه | سلام ورکول، احوال پوښتنه، د ټولګي تنظیم، د حاضرۍ اخیستل او دتېر لوست یادونه او له نوې لوست سره یې اړیکي ورکول | ۵ دقیقې |
| | انګیزه وي پوښتنې<br>کله مو د (ی) توری پر شکسته خط او کړکي قلم په مفرد او مرکب ډول ترکیب کړی دی؟ | ۵ دقیقې |

| د ښوونکي فعالیتونه | وخت |
| --- | --- |
| • زده کوونکو ته د شکسته خط په اړوند معلومات ورکړئ<br>• زده کوونکي پر شکسته نستعلیق خط د الفبا تورو په مفرد او مرکبه بڼه او کرکي قلم د خطاطۍ پر ډول وپوهوئ.<br>• د الفبا تورو لیکل پر شکسته خط او د ټکو ایښودلو بڼه زده کوونکو ته ور زده کړئ<br>• د کرسي خط له پاسه پر شکسته خط او کرکي قلم د کلمو خطاطي زده کوونکو ته ور زده کړئ<br>• د ښو کارو د تر سره کولو له امله هغوی وهڅوئ | ۳۵ دقیقې |

**کورنۍ دنده**

پنځه ویشتم لوست د کتاب له مخې په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ

**اضافي معلومات**

شکسته خط (شکسته نستعلیق)

له هغه وروسته چې نستعلیق خط رامنځ ته شو، لږ لږ یې د ډیرې کارونې او چټکتیا له امله نوي بڼه ځانته خپله کړه، لکه چې محقق او ثلث خطونه چې له نازک خط ریحان څخه او هم له کوچني او نري خط (رقاع) او بیا له نري خط (غبار) څخه رامنځ ته شو.

په دې یې هم بسته ونه کړه، د دې لپاره چې چټکه لیکنه تر لاسه شي، د توقیع، رقاع خطونو او د شکسته تعلیق خطونه هم را پیدا شول چې وروستي خط وکولای شول په چټکۍ سره ځینې مفصلې کلمې متصلې ولیکي د همدې اصل په پام کې نیولو سره تعلیق او نستعلیق شکسته رواج او دود شو، له شکسته خط په شعر او خط لیکلو کې ګټه واخیستل شوه.

**نه ویشتم لوست**

## ۳۲ مخ

**د تدریس وخت (دوه درسي ساعتونه)** **لومړی ساعت**

| | | |
|---|---|---|
| د لوست سر لیک | له نورو تور سره د (ب) توري ترکیب | |
| عمومي موخې | زده کوونکي به له نورو تورو سره پر نسخ خط د (ب) توري پر ټکو ایښودلو او خطاطۍ پوه شي. | |
| د زده کړې موخې<br>- پوهنیزې<br>- مهارتي<br>- ذهنیتي | له زده کوونکو څخه هیله کیږي چې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي:<br>- زده کوونکي به پر نسخ خط او کړکي قلم د (ب) توري پر ټکو ایښودلو او خطاطۍ وپوهیږي<br>- زده کوونکي به پر نسخ خط او کړکي قلم د (ب) توری له نورو تورو سره پر ترکیب، ټکو ایښودلو او خطاطۍ پوه شي<br>- زده کوونکي به له نورو تورو سره د (ب) توري له ترکیب او ټکو ایښودلو او خطاطۍ سره مینه پیدا کړي | |
| د تدریس لاربنود | ډله ییز او ځانګړي او ډله ییز فعالیتونه، پوښتنې او ځوابونه | |
| دتدریس وسایل | کتاب، کتابچه، کړکي قلم، پنسل، پنسل پاک، تباشیر، مشواني، خط کش، قط زن | |
| د ارزونې لاره | د خپل ډاډ تر لاسه کولو لپاره له زده کوونکو پوښتنې وکړئ | |
| لومړني فعالیتونه | سلام ورکول، احوال پوښتنه، د ټولګي تنظیم، د حاضرۍ اخیستل، دتېر لوست یادونه او له نوې لوست سره یې تړاو ورکول او پر لوست پیل کوي | ۵ دقیقې |
| | انګیزه وي پوښتنې<br>کله مو پر نسخ خط توری او یا کلمه خطاطي کړیده؟ | ۵ دقیقې |

| وخت | د ښوونکي فعالیتونه |
|---|---|
| ۳۵ دقیقې | • پر نسخ خط د خطاطۍ په اړوند زده کوونکو ته معلومات ورکړئ<br>• د الفبا تورو د جوړښت او بڼې په اړوند پر نسخ خط د کتاب له مخې زده کوونکو ته معلومات ورکړئ<br>• د کرسي خط پر مخ د (ب) توري د مرکبونو، خطاطۍ او ټکو ایښودلو په اړوند زده کوونکو معلومات ورکړئ<br>• پر کړکي قلم د نسخ خطاطۍ په اړوند له زده کوونکو سره مرسته وکړئ<br>• د دوی کارونو ته ارزښت ورکړئ او د هغه ارزونه وکړئ |

**کورنۍ دنده**

پر نسخ خط د (ب) تورى د کتاب له مخې مشق او تمرین کړئ.

**اضافي معلومات**

محترم ښوونکي: الله(ج) په قرآن کریم کې داسې فرمایلي دي (ن والقلم و ما یسطرون) الله(ج) پر قلم او هغه څه چې لیکل کیږي،قسم کړی دی، په دې ترتیب یې د قلم اهمیت او عظمت بیان کړی دی.

هو! قلم او لیکنه د بشریت دتاریخ بیلوونکي او د مدنیت پیل دی، له دې امله انسانانو قلم ته لوی عظمت ورکړی او خپل تاریخي ژوند یې د قلم او خط د کشف له ورځې حسابوي، همدارنگه یې د سودا گرۍ چارې له یوه نسل څخه بل نسل ته انتقال کړې، زموږ په گران هیواد کې د قلم، خط او معلوماتو له تبادلې څخه مخکې، سودا گرۍ او د سرو د ونو پراختیا تر سره کیده، له یوه ذهن بل ته، له یوې سینې بلې ته او له یوه نسل څخه بل ته په میراث پاتې کیدل. په افغانستان کې د خط له کشف وروسته بیل بیل خطونه،لکه میخي، خروشتي، آرامي، یوناني، باختر او د اسلام د مقدس دین له راتگ وروسته زموږ په هیواد کې عربي خط دور شوؤ له دې امله تاسي پوهیږي چې خط په یو وار په بشپړه او پر مختللي بڼه نه دی پیدا شوي، بلکې خطاطانو او منشیانو ډیر اوږده کالونه ډیرې خوارۍ او تکلیفونه گاللي، تر څو چې موږ ته په دې حالت رارسید لی دی.

۱) کوفي خط: دا خط په لنډه توگه په پنځم ټولگي کې تاسو ته در پیژندل شوی دی، د نورو خطونو په اړوند په شپږم تولگي کې بحث او خبرې کوو.

۲) محقق او ریحان خطونه: دا خط د عباسیانو د واکمنۍ په دوره کې رامنځ ته شو، کله چې تاسې کورنۍ را څرگنده شوه، د قرآن کریم لیکنه ورته ځانگړې شوه، چې عراقي به یې ورته ویل او دا خط محقق و په منظم ډول د ډیرو وروستي لیکوالو دمحقق او ریحان د هغه ورته والی له امله چې په خپل منځ کې در لود، د ثلث نوم ور باندې کیښود، هغه یې د ثلث خط په نوم معرفي کړ.

۳) د ثلث او فروع خط: چې د محقق او نسخ خطونو ثلث نومول شوی دی. له دې امله چې محقق خط کوفي خط ته ورته دی، له دې امله ورته ثلث وايي، چې نسخ د هغه تابع دی او ريحان د محقق خط تابع دی. رفاع د توفيق خط تابع دی، لکه چې هر يود متبوع دريم تابع دی.
٤) د نسخ خط: لومړی دا چې ناقص او نيمګړی و، د حنجري خطو پر نوم يې شهرت درلود.
د کوفي له بابيدو او مرو جيدو وروسته تذييني له حجازي څخه و او د هغه تراغيزې لاندې راغئ، پر سردستيو، مکتوبو نو او نامو (خطونو) يې ور څخه کار اخيستل کيده، خو ځينی تذکرو ليکونکي ورځپاڼې ليکونکي په دې عقيده وو، چې د نسخ خط له ثلث څخه راوتلی دی او نسخ د ثلث خط تابع دی.
۵) نستعليق خط: د دې خط پيدا کيدل د نستعليق دخپريدو او پراختيا يوه پيړۍ وروسته يعنې د اتمې پېړۍ په نمايي کې د نسخ خط ورو ورو لږ لږ د تعليق شيوې ته نژدې شو، له هغه وروسته له نستعليق سره نژدې شو، ډير تذکره ليکونکي په دې باور وو. مير علي تبريزي چې له تيمور گورگاني سره يې په يوه زمانه کې ژوند کاوه، د اتمې هجري پيړۍ په شاو خوا کې دا خط له نسخ څخه تعليق ته را راوړه، ورځ په ورځ يې پراختيا پيدا کړه د يوسلو پنځو سو کالو په موده کې يعنې د تيمور يانو او شاهرخ او د هغو د اولادې له وخته د سلطان حسين بايقراء تر وخته پورې يې هغسې پر مختيا او ترقي وکړه، د قران کريم او نورو کتابونو د ليکلو له امله يې په چټکۍ سره هند، عثماني ترکيې، له هغه ځايه مصر او ټولو عربي هيوادونو کې رواج پيدا کړه، ورځ په ورځ يې نوي ښکلا پيدا کوله، تر څو چې د سلطان علي مشهدي په لاس غښتلتيا او قوت پيدا کړ او د مير علي هيروي مير عماد هروي د قلم په واسطه د کمال پوړيو ته ورسيد.
٦) د يواني خط: دا خط ديوانونو ته ځانګړی شوی و، هغه يې د ديواني خط په نوم و نوموه، له ټولو اسلامي خطونو څخه ټيټ و، ځکه چې له اسانو ليکلو له امله يې د عثمانيانو تر زوال پورې رواج درلود، له هغه وروسته چې د ترکيبې خط په لاتيني خط واوښت، د ټولو اسلامي خطونو په شان له منځه ولاړ.
۷) شکسته (نستعليق شکسه خط): له هغه وروسته چې نستعليق خط را منځ ته شو، ورو ورو د ډيرې کاروني له امله يې د هغه خفيفې بڼې اړتيا شوه او سني بڼه يې خپله کړه، لکه: د محقق او ثلث خطونه چې له هغه يو بل خط (ريحان) رامنځ ته شو، له هغه بيا يو بل وړو کې خط د رقاع باب شو، په دې يې هم بسنه ونه کړه، د دې لپاره چې په ليکنه يې چټکتيا رامنځ ته شي، له توفيق او رقاع څخه نستعليق او د شکسته تعليق څخه تعليق رامنځ ته شو.
۸) رقعه خط (رقعې): که څه هم د رقعي د جوړيدو وخت معلوم نه دی، اما پر قوي باور سره، له هغه وروسته چې ديواني خط پيدا شو، رقعی داسې خط و چې توري يې واړه، تنګ او مستقيم و او اصلي موخه يې په ليکلو کې د چټکتيا رامنځ ته کول و، ځکه دا خط د سريزو او سودا ګريز مکتوبونو د ليکلو لپاره و، او رقعي خط د دې ځانګړتيا وو لپاره پيدا شوی و، رقعه خط ډير آسانه خط و، په عربي حکومتونو کې د ديوانو په کړو وړو کې د عربو د خلکو تر منځ رواج و.

## اته څلویښتم لوست

## ۵۱ مخ

**د تدریس وخت (دوه درسي ساعتونه)** **لومړی ساعت**

| | | |
|---|---|---|
| د لوست سر لیک | د تور مشق د خطاطۍ طریقه | |
| عمومي موخې | زده کوونکي به پر پنځه خط د تور مشق له خطاطۍ سره بلد شي. | |
| د زده کړې موخې<br>- پوهنیزې<br>- مهارتي<br>- ذهنیتي | له زده کوونکو څخه هیله کیږي چې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي:<br>-زده کوونکي به پر کړکي قلم او نستعلیق خط د تور مشق پر خطاطۍ وپوهیږي<br>- زده کوونکي به پر کړکي قلم او نستعلیق خط د کلمو له لیکلو سره بلدتیا پیدا کړئ<br>-زده کوونکی به پر کړکي قلم او نستعلیق خط د تور مشق له خطاطۍ سره مینه پیدا کړي | |
| د تدریس لارښود | ځانګړي او ډله ییز فعالیتونه، پوښتنې او ځوابونه | |
| دتدریس وسایل | کتاب، کتابچه، کړکي قلم، پنسل، پنسل پاک، تباشیر، مشواڼی، خط کش، قط زن | |
| د ارزونې لاره | د خپل ډاډ تر لاسه کلوول لپاره له زده کوونکو پوښتنې کوي | |
| لومړني فعالیتونه | سلام ورکول، احوال پوښتنه، د ټولګي تنظیم، د حاضرۍ اخیستل، د کورنۍ دندې کتنه او اصلاح، د تیر لوست یادونه او له نوې لوست سره اړیکې ورکول او پر نوې پیل کوي | ۵ دقیقې |
| | انګیزه وي پوښتنې<br>آیا پر کړکي قلم موکلمې پر نستعلیق خط د تور مشق په بڼه تمرین کړې دي؟ | ۵ دقیقې |

| د ښوونکي فعالیتونه | وخت |
| --- | --- |
| • زده کوونکي به پر نستعلیق خط او کړکي قلم د تور مشق پر خطاطۍ وپوهیږي<br>• زده کوونکي دې پر نستعلیق خط د کتاب له مخې کلمې پر تختې د تور مشق په بڼه ولیکي<br>• زده کوونکي به پر کړکي قلم او نستعلیق خط د تور خط مشق ولیکلای شي<br>• کارونه یې پر درو برخو ویشي او هغه ارزیابي کړئ | ۳۵ دقیقې |
| | |

**اضافي معلومات**

محترم ښوونکي: زده کوونکی د خطاطۍ د بېلا بېلو طریقو او ښکلا لیکنې سره آشنا کړئ، له دې جملې یو تور مشق دی، دا له یوه مخ مشق څخه عبارت دی، مثلاً: د ثلث خط غټ لیکل شوی دی. او په مخ کې یې فاصله ډکه کړي ده، یعنې دا هم د سیا مشق یوه برخه ده، نور څه نه دي.

دا ډول خطاطي د لاس د حرکتونو په سمولو او آزادۍ او د خطاطۍ په ښکلا او ښیګڼه کې ډیره مرسته کوي، په مرسته یې زده کوونکي پر کړکي قلم په یوه مخ کې ډېر مشق کوي چې له ښکلا لیکنې سره مرسته کوي، زده کوونکي پر کړکي قلم او نستعلیق خط په جملو کې د کلمو خطاطۍ ته متوجه کیږي او د تورو او کلمو په یوځای کولو او خطاطۍ د کرسي خط له پاسه متوجه کیږي او په عملي ډول ور باندې کار کوي، نستعلیق خط د یو ډول اصولو او قاعدو لرونکی دی، چې هغې ته په پاملرنې سره زده کوونکي له ښکلا لیکنې سره بلدیږي، تر څو چې جملې سمې او ښکلي خطاطي کړي.

**د نستعليق خط پيدايښت**
نستعليق خط له دوو عربي کلمو (نسخ) او (تعليق)عربي (نسخ) و (تعليق) مرکبه ده چې د فارسي ليکنې د خط پر نوم يادېږي.
نسخ: د باطل او راګر ځول شوي په معنا دی، هم د يو ډول خط نوم دې چې پر هغې کتابونه ليکي، دا خط د څو نورو خطونو لکه: محقق، ريحان، ثلث او تقيع زيږوونکي دی.
تعليق: د يوه شي پر بل دځوړنديدو او ياهم پر يوه کتاب باندې د يادداشتونو او ليکونو په معنا او مفهوم دی او هم د يو ډول خط نوم دی چې له دوو او اسلامي خطونو (راع او توقيع) څخه راوتلی دی.
نستعليق خط د نسخ او تعليق ترکيب شوی خط دی، بايد په دې و پوهيږو چې نستعليق خط د نسخ اصل دی چې خطاطانو پکې تصرف کړی، سطح کاف د الف په ليږدول او د (ی، ل، س، لام او نون تورو په له منځه وړلو، د قوسي سين او مداتو په زياتوالي يې له نورو خطونو څخه ترلاسه کړ نړيوالی او ناز کوالی يې پکې مراعات کړی دی او له هغه يې يو بل خط جوړ کړ چې د نسخ تعليق پر نوم يې نومولی دی. ملکي کسانو د وخت په تېريدو ځينې تصرفات پکې وکړل، لږيې نازک کړ، د دې لپاره يې اصول او قاعدې وټاکلې، تر څو چې دا خط يې کمال ته ورسوه.
نستعليق خط چې تاسې ورسره بلد تيا لری، د اسلامي خطونو له ډيرو ښکلو خطونو څخه دی.
**د خط تعريف او اهميت**: خط د لغوي معنا له مخې پر قلم ليکلو ته وايي، په صنعت او د قلم د خاوندانو په عقيده خط په ترکيبونو او جملو کې د تورو سم ليکل، همدا رنګه په ځانګړي ډول د تورو ښکلي او سمو ليکلو ته ويل کيږي. په بل عبارت خط د لاس ژبه ده، د زړه سيفر او د اما نتونو او آثارو ساتونکی دی.
د خط فن (علم له پلوه صفت او هنر دی) چې د ښوونې او روزنې په پروسه کې زده کيږي.
د خط او اهميت په اړوند بايد يادونه وکړو، که چيرې خط نه وای، پخوانيو آثارو به هم په نړۍ کې شتون نه درلود.
**د ښکلي خط ليکنې وسايل:** د نورو هنرونو په شان د خطاطي لپاره هم ځانګړو وسايلوته اړتيا ده، تر څو چې اړين وسايل نه وي، د پرمختګ هيله يې هم نه شي کيدای، د ښو وسايلو درلودل له يوه ښوونکي کم نه وي، په هر صورت ځينو وسايلو، لکه: قلم، قلم تراش، قط زن، مشوانۍ، مقطرې او به، رومي تيږه، خاک بيزه، وريښمينه ټوټه، کاغذ، ټول دښکلي ليک د ليکلو وسايل دي چې په پخوانيو زمانو کې له دې هر يوه څخه کار اخيستل کيده، نن ورځ د دې ټولو اړتيا نشته، بيا هم ټول تشريح کوو، تر څو زده کوونکي له هغه سره آشنا يې پيدا کړي.

**۱:- کړکي قلم**

د کړکي قلم دښې او ښکلي ليکنې ډېره ښه وسيله ده، قلم د قطع په معنا دی، څنگه چې تراشل شوی دی، بايد د هغې په تراشلو کې پاملرنه وشي، هر څوک چې دکړکي قلم ښه تراش کړي، نو د خط ليکل ورته آسانيږي.

دقلم د تراشلو په اړوند بايدڅلورو ټکو ته پاملرنه وشي.

الف:- فتح (د کړکي قلم دمخ لرې کول).

ب:- نحت (دکړکي قلم د څنگ تراشل).

ج:- فاق (د کړکي قلم سور يې کول).


د:- د کړکي قلم د سر پرې کوَل.

که چيرې د کړکي د ځينو قلمونو څټ لږ نازک شي، که څه هم دا دپنډو کړکو ځانگړتيا ده، که دې ته پاملرنه وکړو، نو ټول پنځه ټکي کيږي.


الف:- فتح: د کړکي قلم د ميدان لپاره د قلم تراشل دي قلم تراش ته مساوي فشار ورکړو، تر څو چې د قلم سر ننوزي، تر څو د کړکي قلم ميدان د قلم د قطر په اندازه شي د قلم ميدانی بايد ډير لوړ نه وي،څکه چې د لاس قدرت کموي او قلم ژر ماتيږي او نه هم ډير لنډ وي چې د کاغذ پر مخ د زيات مرکب درمل او خط خراب کړي.

**۱. فتح:** آغاز تراشيدن قلم نی است برای ميدان قلم نی، قلم تراش را در بدنه قلم با فشار مساوی تا سر قلم فرو می برند تا اندازۀ ميدان قلم نی به قدر قطر قلم شود.


ميدان قلم نبايد زياد بلند باشد، زيرا قدرت دست را کم می کند و قلم زود می شکند و نبايد زياد کوتاه باشد که باعث شود مرکب زياد روی کاغذ رسيده و خط را خراب کند.




**ب:-** د قلم د څنگ په تراشلو کې دا رمز دی چې د قلم دوه څنگونه نسبت د قلم سر ته مساوي وي.



**ج:- شق:** د کړکي قلم د سختوالي او سستوالي په اړوند يې بايد منځنۍ حالت غوره شي، دا سې منځنۍ حالت اړين دی چې نه سخت او نه هم سست او د قلم د ميدان په نمايي کې د (۲/۳) فاق وهل شي، که زيات شي د قلم که دوه ځايه کيږي او خط خرابوي، په سختو قلمونو کې فاق د قلم د ميدان په کچه وي، په سستو قلمو نو کې (۱/۳) او (۱/۲) کچه ټاکل شوې ده، د قلم فاق بايد د قلم په منځنۍ برخه کې پروت دي، تر څو چې دوې ژبې يې جوړې شي.
(واحشي او انسی): ښي بلو ژبې ته يې وحشي او کيڼې خواته يې انسي وايي، د قلم ښي خوا ژبې او نېش ته يې وحشي او د قلم کيڼې خوا ژبې او نيش ته انسي ويل کيږي.





**د:- د کړکي قلم قط:** اصلي قط، قطع ده، د قلم سر د پلنوالي له خوا يې پر مخ قطع زن کيږدئ، تر څو چې صاف او له غيب پر ته پرې شي، هغه غږ چې د کړکي قلم له قطع کولو څخه پورته کيږي بايد يو ښه غږووي.








**ه:- د کړکي قلم د څټ او يا شه پريکول:** د قلم په څو که کې قلم تراش کيږدئ، او فشار ورکړئ چې په پوستکي کې ننوزي، وروسته ورو ورو قلم تراش ته د څو کې خواته حرکت ورکړئ، د کړکي قلم د شا پريکول د دې لپاره دی، چې د قلم څوکه له دواړو خواو يو شان وي. او ښه کار وکړي او هم د مرکب لپاره سم ځای وي، تر څو په يو وار د کاغذ پر مخ راکش نه شي، د غټ کړکي قلم د شا پريکولو اړين دي.



**۲:- قلمتراش**

د دې لپاره چې کړکې قلم له اصولو سره سم و تراشل او یا جوړشي، دوو قلمتراشو ته اړتیا ده، یو د قلم د پلنوالي د کمولو لپاره چې باید محکم او اوپلن وي، تر څو چې د کړکي قلم پلنوالی هوار راشي، د کړکي قلم د څنګونو د خالي کولو لپاره چې نرى وي، تر څو چې سر او ژبه یې نرئ او د کوترې د لکۍ په شان وي، لکه چې ویلې یې دي: هغه څوک یې ښه لیکلای شي چې تیره او تېز قلم تراش ولري.




**۳:- قطع زن**

قطع زن باید صاف او سخت وي او هغې آلې ته ویل کیږي چې له کلک لرګي او یا هډو کي څخه جوړ شوی وي، لکه: آبنوس (یو ډول ونه ده چې لرګي یې کلک او سخت دي چې د کړکي قلم په قطع کولو او یا پرې کولو کې ور څخه ګټه اخیستل کیږي.



**٤:- مشوانۍ (لیقه او مرکب)**

د لیقه نوم هغه وخت ورته ویل کیږي چې پر مرکب ککړ او په مشوانۍ کې پروت وي. د مشوانۍ سر باید پرانیسی او د رګی وي.

لیقه له څو پیچلو اوو ریښمینو تارونو څخه عبارت ده چې په مرکب کې واچول شي، ګټه یې داده چې په مشوانۍ کې د رنګ له توئیدو څخه مخنیوی کوي، کړکي قلم ته په خپله اندازه رنګ ورکوي لکه: چې مشوانۍ په فرهنګ پورې اړه لري، له دې امله یې په ساتنه باید کوښښ وشي.



**۵:- لړومی (الت بهم زدن):** هغه آله یا وسیله ده چې رنګ په دې لړل کیږي، یا رنګ ته پرې شور ورکول کیږي.
**٦:- مقطرې اوبه:** د رنګ په ترکیب کې د عادي اوبو پر ځای له مقطرو اوبو څخه ګټه اخیستل کیږي چې هغه د (بلو) په نوم هم یادوي.
**۷:- رومي تیره:** داسې تیره ده چې قلم تراش پرې تېز وي.
**۸:- خاورو چښوونکی:** دململ یوه ټوټه ده چې خاورې پرې چڼول کیږي چې د البک پر نوم هم یادیږي، د اړتیا پر وخت له هغه څخه د کاغذ پر مخ د رنګ وچولو کار اخلي.
**۹:- دحریر ټوټه:** یوه نرمه و ریښمینه ټوټه چې د قلم د وچولو پر وخت ور څخه ګټه اخیستل کیږي.
**۱۰:- مسطر:** داسې یو چوکات دی چې په ټاکلی فاصله کې پکې ټاکلي رشته یي تارونه اچول کیږي، چې نن ورح ور څخه کار نه اخیستل کیږي او پر ځای یې له خط کش څخه ګټه اخیستل کیږي.
۱۱:- دکاغذ لاندې اچوونکی ټوټه: ټوټه یا مقوا چې د لیکلو پر وخت له کاغذ څخه لاندې کیږي.
**۱۲:- کاغذ:** سپین یا رنګه کاغذ، خو چې رنګ نشر نه کړي، هغه کاغذونه چې په خطاطی کې ور څخه ګټه اخیستل کیږي. لکه: شفاف د ترس کاغذونه، ډبل کاغذونه، (۲۰۰) ملي ګرامه سپین جلا لرونکي کاغذونه او نازک جلا دار کاغذونه دي.

**دښکلي خط لیکلو پړاوونه**

د مشقي او ښکلي خط لیکل او تمرین درې پړاوه لري: قلمي، نظري او ذهني.
**۱:- قلمي:** د کړکي قلم په واسطه د کلمو نقل کول دي.
**۲:- نظري:** دښوونکي د تورو، کلمو او خطونو پر مخ دقلم کش کولو ته پاملرنه او دقت، همدا رنګه دهغې تاوول اوحرکات دي چې په لیدلو تر سره کیږي او د زده کوونکي په ذهن اغیزه کوي.
**۳:- ذهني:** هغې خطاطۍ ته ویل کیږي چې تمرین کوونکی د خط له اچولو سره آشنا او یو له بل سره د تورو یو ځای کول او له نمونې څخه له تقلید پرته له خپل ذهن، په مینه عبارتونه ولیکي، تر څو د خپل خط د ښکلا کچه وارزوي.
زده کوونکو ته یې زده کول اړین دي چې دښوونکي لارښوونو تورو، کلمو ته پاملرنه وکړي. په پوره صبر او حوصلې سره دنمونې کچه او اندازه نقل اوتکرار کړي، یوازې له سر مشق پرته له ځانه څه ونه لیکي، په پر له پسې توګه دښوونکي لارښوونې په پام کې ونیسي. اړینه ده چې دمشق او تمرین د قلم څوکه د نمو نوي خط په اندازه جوړکړي، د هغو نمونو له پیروی څخه چې مسلکي نه وي، ډډه وکړئ.

وروسته له هغه چې خط يې قوت واخلي، له ځانه کلمې او عبارتونه وليکي، دښوونکي له خط او نمونو سره يې پر تله کړي، د ښوونکي نظر ته يې وړاندې کړي، ډېره پر زړه پورې ده چې زده کوونکي له متابعت څخه سر غړونه ونه کړي، د هغې لارښوونې په پام کې ونيسي، په ټولو حالاتو کې پاکۍ او نظافت ته پاملرنه وکړي. د خط وسايل پاک او په ترتيب سره يې ځای پر ځای کړي، په ليکلو کې ډيره مبالغه و نه کړي چې خپه او ستړي نه شي، او همدا رنګه دې په ليکلو کې تلوار ونه کړي.

## دخط عمومي ګټې

موږ پوهيږو چې ټول اسلامي خطونه له يوه اصل اخيستل شوي، اصل يې هغه الفبا ده چې له هندسي شکلونو او يا هغو شکلونو څخه چې په طبيعت کې شتون لري، اخيستل شوي يا د هغو خطونو تعقيب دی چې ډول ډول خطونه په بېلا بيلو ټولنو کې شتون لري، له دې امله يې ټول اسلامي خطونه له يوې ريښې او اصل څخه سرچينه اخلي، له دې امله ټول اسلامي خطونه څلور قاعدې لري او هره قاعده يې څو برخې لري، چې دلته يې مطالعه کوو.


۱:- اصول: چې يوولس برخې لري.

قوت – ضعف – سطح – دور – مجازي صعود – مجازي نزول – حقيقی صعود – حقيقي نزول – د سواد رعايتول، د دايرو او غوټو سپنوالی، د الفبا د ډلبندۍ ليږل.

۲:-نسبت: څلور برخې لري.

په يو شکل مفرداتو کې يو ډول ليکل – مشابه مرکبات – د مفرداتو دمرکباتو او اندامو تناسب – اندازې اخيستل يا ټاکلي نورمونه.

۳:-ترکيب: لس برخې لري.








په تورو او کلمو کې ترکیب، په کرښه او جمله کې ترکیب، دټولو مخونو په کرښو کې د ترکیب په پام کې نیول، څپرکو ته پاملرنه، د قلم سنجش، په مجاورت او نظم کې اعتدال، دمشوانۍ او دهغه د ځای په پام کې نیول، د مرکباتو په طریقو پوهېدل، د حرکاتو په پام کې نیول، د ګرامري ټکو او نښو ایښودلو ته پاملرنه.
٤:- کرسي: دوې برخې لري.
دپورتنۍ، منځنۍ اولاندینۍ کرسي په پام کې نیول (قرینه سازي)
یادونه: یوه بله برخه چې په دوو قاعدو (اصول، ترکیب) پورې اړه لري، د قلم د نیولو طریقه او دقلم د کش کولو او د مرکب په پام کې نیول.

**محترم ښوونکي: د هر لوست لپاره د ځانګړي پلان له لیکلو ډېره شوې ده، تاسې کولای شئ چې له پورتني پلان څخه په ټولو لوستونو کې ګټه واخلئ.**
**یادونه: هغه درسونه چې ډېر وخت نیسي، تاسې کولای شئ هغه په درو درسي ساعتونو کې تدریس کړئ.**